خپل حقوق وپېژنئ،

کله چې تاسې، د مهاجرتي خاصو ویزو لرونکي (SIV)، افغان کډوال، د امریکې متحدو ایلاتو ته بېله وکیل څخه رارسېږئ.

د نړیوالو مرستو پروژه یا ټولنه، کډوالو او بېځایه شویو خلکو ته، بې پیسو او رایګانه قانوني او حقوقي مرسته وړاندې کوي.

---

دا لارښونه د هغو کسانو د پاره عمومي مالومات وړاندې کوي، چې له (SIV) مهاجرتي خاصو ویزو سره د امریکې متحدو ایالاتو ته رارسېږي.

دا مالومات کېدای نشي چې د هرچا دپاره حقوقي او قانوني لارښوونه وي.

دا مالومات د (2025) کال د جنوري په میاشت کې اصلاح شوي دي. خو شرایط کېدای شي بدل شي.

دا لارښوونه د دې دپاره جوړه شوې ده، ولې چې په تېرو څو کلو کې، کله چې د (SIV) مهاجرتي خاصې ویزې لرونکي، د امریکې متحدو ایالاتو ته راغلي، په هوایي ډګرو کې بندیان شوي دي. زموږ په عقیده، هغه کسان چې د (SIV) مهاجرتي خاصې ویزې لري، که چېرې د امریکې د متحدو ایالاتو په کوم هوایي ډګر کې بندیان شي، دوی باید پوه او خبر وي چې څه وکړي. مانا، باید مخکې له مخکې د داسې یو حالت د پېښېدو دپاره تیاری او چمتوالی ولري.

---

د دې ډول تیاري یا چمتوالي یو شمېر ګامونه په لاندې ډول دي:

- **د سفر دپاره تیاری نیول**

- مخکې له دې چې راځئ ، او یا مخکې له دې چې په هوایي ډګر کې بنکته شئ، د امریکې په متحدو ایلاتو کې له یو چا سره وغږېږئ او یو پلان جوړکړئ، چې په څه ډول له یوبل سره تماس ونیسئ. ستاسې له رارسېدو سره هوایي ډګر ته، لږترلږه ، یو کس باید خبر شي، یا خبر وي، چې تاسې خو به په هوایي ډګر کې بندي شوي نه یاست.

دا د تماس کس کېدای شي ستاسي د کورنۍ غړی وي. یا یو ملګری وي. یا یو پخوانی اداري مشر وي.

0 - تاسي باید دې د تماس کس ته ، خپل د سفر یا الوتنې مالومات ورکړئ، چې په کومه ورځ، په څو بجو، کوم هوایي ډګر ته رسېږئ، یا په کوم هوایي ډګر کې ښکته کېږئ.

0 – دا خبره هم باید څرګنده او واضح کړئ، چې تاسې، په کوم ډول، د تماس له دې کس سره اړیکې نیول غواړئ.

آیا تاسې له خپل تلیفون څخه د تماس دې کس ته تیلیفون کوئ،

آیا دا د تماس کس یا کسان به په هوایي ډګر کې ستاسې انتظار باسي ؟

---

0 – که چېرې تاسې په هوایي ډګر کې بندي شوئ، د تماس له دې کس یا کسانو سره، لا مخکې له مخکې، د حل په یوې لارې باندې خبرې وکړئ، چې دا د تماس کس یا کسان ستاسې د بندي کېدو په صورت کې څه وکړي.

- آیا دا د تماس کس ستاسې په کیسې یا وضعې باندې مطبوعات خبرکړي.
- آیا دا د تماس کس له رسمي ټاکل شویو کسانو لکه د ناحیې یا ګُذر له وکیل څخه مرسته وغواړي.
- آیا دا د تماس کس هڅه او کوښښ وکړي چې یو وکیل پیداکړي، چې په محکمه کې عریضه وکړي ؟

---

- دا لاندې اسناد او مالومات باید په خپل لاسي بکس کې له ځان سره وساتئ، او په هغه بکس کې یې کې نه ږدئ (کېښودل) چې د هوایي ډګر د بکسو د تسلیمېدو کارکونکو ته سپارل کېږي.

- دا اسناد او مالومات کوم دي:

# - د تاسي پاسپورت او سفري اسناد. هغه تړلی پاکټ چې د امریکې د متحدو ایالاتو سفارت تاسې ته درکړی، او په هغه کې سفري اسناد دي. دا تړلی پکټ مه خلاصوئ.

# - د (SIV) د مهاجرتي خاصی ویزې اسناد.

# - د امریکې په متحدو ایالاتو کې د تماس د کس په هکله مالومات.

# - دغه پاڼه چې د تاسې د حقوقو په هکله ده.

دا اسناد، مالومات او پاڼه کېدای شي له تاسې سره د احتمالي ستونځو او مُشکلاتو د پیداکېدو په وخت کې مرسته وکړي، کله چې د امریکې متحدو ایالاتو ته راورسېدئ.

---

- **مخکې له دې چې د مهاجرینو د پلټنې دفتر ته ورسئ، څه باید وکړئ:**

کله چې د امریکې په متحدو ایالاتو ښکته شوئ، که چېرې امکان لري، لومړی دا هڅه وکړئ چې خپل د تماس له کس سره اړیکې ونیسئ. که چېرې تاسې کوم مسیج لېږلی نه شئ، ځکه چې ستاسې تلیفون کار نه ورکوي، دا هڅه وکړئ چې خپل د تماس کس ته، د هوايي ډګر د (WiFi) له لارې یو مسیج یا (e-mail) ولېږئ. کله چې تاسې یووار د مهاجرو او ګُمرک ساحې ته ورسېدئ، بیا په عمومي دول سره به تاسې اجازه ونلرئ چې له خپل تلیفون څخه استفاده وکړئ. نو د مهاجرو او ګُمرک ساحې ته له رسېدو مخکې، د تماس له کس سره د اړیکو نیولو هڅه وکړئ.

---

- **د مهاجرینو دفتر ته ورتګ او پوښتنې، څه کېږي او څه باید وشي:**

کله چې له الوتکې څخه ښکته شئ او د مهاجرینو دفتر ته ورغلئ، تاسې به د لمړیو پوښتنو او پلټنو دپاره په یوه کتار کې ودرېږئ.

د لومړنیو پوښتنو او پلټنو په ځای کې، پلټونکي یا مسئول کس ته خپل د سفر اسناد، او هغه پاکټ چې د امریکې د متحدو ایالاتو په سفارت کې یې تاسې ته درکړی، او تړلی دی، هغه به ورکړئ.

پوښتنو ته به ربښتیاني ځوابونه ورکوئ.

سربېره پردې به

ستاسې د ګوتو چاپ واخیستل شي، او ستاسې عکسونه به واخیستل شي.

---

د امریکې متحد ایالات دا خپل حق ګڼي، چې ستاسې ټول راوړي شیان وپلټي، تر څو وکتل شي چې تاسې ته، د امریکې متحدو ایالاتو ته د ننوتلو اجازه درکړي که نه. دا خبره دا مانا

لري چې امریکایي مامورین به ستاسې لیکنې، ویدیوګانې، یا عکسونه، چې ستاسې په الکترونیکي وسایلو، لکه په تلیفونو او یا لپټاپو کې دي، وګوري چې څه شیان په کې دي.

وروسته له دې پلټنو او پوښتنو څخه ، د مهاجرتي خاصې ویزې دېرې یا اکثره لرونکي، کولی شي چې د امریکې متحدو ایالاتو ته ننوځي. خو دا امکان شته چې مامورین پریکړه وکړي، یا تصمیم ونیسي چې تاسې د نورو پوښتنو دپاره ، یو دوهم ځای ته یوسي. که چېرې تاسې د پوښتنو او پلټنې یو دوهم ځای ته یوړل شئ، تاسې به یوې بلې کوټې ته یوړل شئ. هلته تاسې کولی شئ چې مړی یا ډوډۍ وخورئ، د چښاک اوبه ولرئ، د عبادت ځای ولرئ، او تشناب ته ولاړ شئ.

کله چې په دوهمه کوټه کې انتظار باسئ، که چېرې تاسې کومې دوا یا کوم درمل ته ضرورت لرئ، باید دې مامور یا مامورینو ته د دې ضرورت یادونه وکړئ.

که چېرې تاسې د پلټنې په دې دوهمه کوټه کې زیات له دو ساعتو یا ګړیو څخه په انتظار کې یاست، دا غوښتنه وکړئ، چې تاسې ته دا اجازه درکړی شي، چې د امریکې په متحدو ایالاتو کې خپل د تماس کس ته تلیفون وکړئ.

که چېرې تاسې په انګلیسي غږېدا کې ستونځه یا مُشکل لرئ، تاسې دا حق لرئ چې د یو ژباړونکي یا ترجمان غوښته وکړئ.

---

**څه وخت د سیاسي پناه غوښتنه کوئ:**

**که چېرې داسې ښکارېده چې تاسې ته به، د امریکې متحدو ایالاتو ته د ننوتلو اجازه درنکړي، تاسې به د سیاسي پناه غوښتنه وکړئ.**

د تاسې د پاره دا مهمه ده چې پوه یاست، چې تاسې د امریکې په متحدو ایالاتو کې د سیاسي پناه غوښتنې حق لرئ ، که چېرې داسې ښکاره شوه چې مامورین تاسې ته د امریکې متحدو ایالاتو ته د ننوتلو اجازه نه درکوي.

د سیاسي پناه غوښتنه دا مانا لري، چې تاسې د امریکې متحدو ایالاتو ته له رسېدلو وروسته، د یوه پناه غوښتونکي شرایط پوره کړي دي. سیاسي پناه غوښتونکی، داسې یو کس دی چې په خپل هېواد کې له تعقیب او ځورونې څخه ډارېږي. او په خپل هېواد کې د نژادي، مذهبي، یا قومي تړاو له کبله، او په یوې ټولنیزې ډلې کې د غړیتوب له کبله ، او یا د یو سیاسي فکر د لرلو له کبله ځورول او رټل شوی وي، او کېږي

---

که چېرې تاسې په خپل هېواد کې، د امریکې له متحدو ایالاتو سره د کارکولو له کبله، له جدي خطر او ځورولو سره مخامخ شوي یاست، ډېر دا امکان شته چې تاسې، د سیاسي پناه غوښتونکي مقام ترلاسه کړئ. مانا د سیاسي پناه غوښتونکي په ډول وپېژندل شئ.

که چېرې ستاسې د کورنۍ غړي له تاسې سره په سفر کې وي، تاسې کولی شئ چې خپله مېرمن، او خپل اولادونه د سیاسي پناه غوښتونې په غوښتن لیک کې ورګډ کړئ.

---

که چېرې وضعه داسې ښکارېده چې تاسې ته به د امریکې متحدو ایالاتو ته د ننوتلو اجازه درنکړي، او تاسې غواړئ چې د امریکې په متحدو ایالاتو کې پاته شئ، تر څو د سیاسي پناه غوښتنه وکړئ، دولتي مامور ته د دې لیک یوه کاپي، چې له دې لیک سره مل ده، ورکړئ. او لاندې ګامونه اوچت کړئ.

1 – له مامور څخه غوښتنه وکړئ چې تاسې ته په موقتي ډول ، د امریکې متحدو ایالاتو ته د ننوتلو اجازه درکړي. کله چې تاسې ته اجازه درکړی شي، تاسې کولی شئ چې یو وکیل پیداکړئ، چې تاسې سره ستاسې په وضعې کې مرسته وکړي.

مامور ته وواياست چې تاسې ته امریکې ته د ننوتلو اجازه درکړي: (ولې ، د څه دپاره ؟)

دلیلونه:

- ځکه چې تاسې د (SIV) د مهاجرتي خاصې ویزې د لرونکي په ډول منل شوي یاست، چې د امریکې متحدو ایالاتو ته ننوځي، او د دایمي اوسېدونکي د مقام، قانوني پاڼه په لاس کې لرئ.
- تاسې په افغانستان کې د امریکې د متحدو ایالاتو رسمي کارکونکی واست (وئ).
- تاسې ښودلی ده چې تاسې به په افغانستان کې د ځورونې او رټلو له جدي خطر سره مخامخ یاست، ځکه چې د امریکې له متحدو ایالاتو سره مو ګډکار کړی دی.
- تاسې د مهاجرتي خاصې ویزې د پاره امنیتي او روغتیایي (صحي) معاینې تېرې کړي دي.
- (او که چېرې رښتیا وي) : تاسې د امریکې په متحدو ایالاتو کې د کورنۍ غړي لرئ، چې غواړئ له هغو سره یوځای شئ.

---

2 – د (CBP) مامورته ووایاست چې تاسې له دې ځخه ډارېږئ چې افغانستان ته بېرته ستانه شئ. لکه څرنګه چې ستاسې په (SIV) غوښتن لیک کې څرګنده او ښکاره ده. دې مامور ته ووایاست چې تاسې د باورې ډار د مرکې حق لرئ، چې وښایاست چې تاسې د سیاسي پناه غوښتنې شرایط په واضح او څرګند ډول سره پوره کوئ.

-----------------------------------------------------------------------------

د پاملرنې نور شیان:

- هیڅ داسې سند یا پاڼه مه لاسلیک کوئ، چې پرې نه پوهېږئ.
- پخوا وختو کې د (SIV) د مهاجرتي خاصې ویزې له لرونکو څخه غوښتنه شوې ده، چې داسې پاڼې یا اسناد لاسلیک کړي، چې په هغو کې دوی خپل غوښتن لیکونه بېرته اخلي. که تاسې غواړئ چې د امریکې په متحدو ایالاتو کې پاته شئ، داسې پاڼې یا اسناد مه لاسلیک کوئ چې هغه د (SIV) مهاجرتي خاصې ویزې د بېرته اخیستلو په هکله دي.
- ---------------------------------------------------------------------------

3 – کله چې تاسې یووار، افغانستان ته، له بېرته ستنېدو څخه، ډار څرګند کړ، تاسې بیا څوک د امریکې له متحدو ایالاتو څخه ایستلی نشي. تاسې به یا په هوایي ډګر کې ساتل کېږئ، او یا به د توقیف یوبل ځای ته یوړل شئ، تر څو د باورې ډار مرکه سرته ورسېږي. په دې مرحله کې ، له خپل د تماس له کس سره، د امریکې په متحدو ایالاتو کې، اړیکې ونیسئ، که چېرې دا کار مو لا نه وي کړی، او غوښتنه وکړئ چې د تاسې دپاره یو وکیل پیداکړي.

4 – کله چې د باورې ډار د مرکې د پاره انتظار باسئ، تر مرکې دمخه د انتظار په دې وخت کې له یوه وکیل سره خبرې وکړئ، او د مرکې د پاره تیاری ونیسئ. په مرکې کې به له تاسې څخه د (SIV) د مهاجرتي خاصې ویزې په هکله پوښتنې وشي. نو د مهاجرتي خاصې ویزې پاڼې او اسناد سم ولولئ، او ځان په ټولو لیکلو شیانو پوه کړئ.

5 – د باورې ډار مرکه کېدای شي چې په مخامخ ډول سرته ورسېږي، او یا د تلیفون له لارې ترسره شي. تاسې دا حق لرئ چې یو وکیل له ځان سره راوړئ.

کله چې په مخامخ ډول له مامورینو سره مرکه کوئ، او یا که چېرې د تلیفون له لارې مرکه کېده، تاسې دا حق لرئ چې یو وکیل د تلیفون له لارې په دې تلیفوني مرکه کې برخه واخلي.

6 – کله چې تاسې د باوري ډار مرکه تېره کړه، تاسې د مهاجرينو د قاضي په وړاندې د سياسي پناه غوښتنه کولی شئ. کله چې تاسې د سياسي پناه غوښتنه کوئ، کېدای شي چې تاسې به لا په توقيف کې وساتل شئ. تاسې کولی شئ چې غوښتنه وکړئ چې له توقيف ځای څخه ، د موقتي اجازې په ترڅ کې، پرېښودل شئ. مانا تاسې ته موقتي اجازه درکړی شي، چې له توقيف ځای څخه راووځئ، او د امريکې متحدو اياالاتو ته ننوځئ.

د اوسني چارچلند يا قوانينو له مخی، چا چې د باوري ډار مرکه تېره کړې وي، دوی کېدای شي چې په موقت ډول پرېښودل شي ، مانا دوی ته، د امريکې متحدو اياالاتو ته د ننوتلو اجازه ورکړی شي، که چېرې د دوی پېژندګلوي او هويت واضح او څرګند شي، اوبل دا چې دوی به د مهاجرينو د دفتر د پوښتنو نېټې ته ورشي، اوهمدارنګه د ولس او ټولنې د پاره کوم خطر ندي.

د (SIV) مهاجرتي خاصې وېزې ډېری يا اکثره لرونکي، وروسته له پلټنو او پوښتنو څخه، د امريکې متحدو اياالاتو ته پرېښودل کېږي، مانا امريکې ته د ننوتلو اجازه ورکوي، او مجبوره نه دي چې د سياسي پناه غوښتنه وکړي.

او يو وار بيا

له تاسې مهاجرو نه هيله کېږي چې، هرڅومره ژر چې امکان لري، له خپل د تماس له کس سره ، د امريکې په متحدو اياالاتو کې، اړيکې يا تماس ونيسئ، چې دوی پوه وي، چې آيا د مامورينو له خواه ستاسې پلټنې او له تاسې څخه پوښتنې، ښې تېرې شوې دي، که نه ؟ او که تاسې بندي شوي ياست ؟ نو هيله ده چې ژر تر ژره، د خپلې وضعې په هکله د تماس کس ته مالومات ورکړئ.